مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۴۲** (از ۵ الی ۱۲ حوت ۱۳۹٦ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........................................ ۲

**کابل پروسه؛ ایا د سولې مخامخ خبرې به پیل شي؟**

د لومړۍ او دویمې غونډې توپير ........................................ ۴

د افغان حکومت د سولې تګلاره کې بدلون ........................................ ۵

طالبانو ته د حکومت وړاندیزونه ........................................ ۵

د طالبانو غبرګون ........................................ ۷

**له اداري فساد سره د ملي یووالي حکومت د مبارزې ارزونه**

د ملي یووالي حکومت تګلاره ........................................ ۱۰

د فساد ضد تېره دري کلنه مبارزه ........................................ ۱۰

په ۲۰۱۷ کې د نړۍ څلورم فاسد هېواد ........................................ ۱۱

وړاندیزونه او سپارښتنې ........................................ ۱۳

## مقدمه

د کابل پروسې په دویمه غونډه کې د افغان حکومت لهخوا طالبانو ته د سولې د خبرو اترو د پیل لپاره بېساري وړاندیزونه وشول او د سولې په تړه دربدلي بهیر د بیا پیل او بریا لپاره یې نوې هیلې راوټوکولې.

په دې غونډه کې، چې د امریکا د متحده ایالاتو، روسیې، چین، انګلیستان، جرمني، هندوستان، پاکستان، ایران، اندونیزیا او نورو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو استازو ګډون کړی و، ولسمشر غني له نړیوالې ټولنې هم د افغان حکومت د دغه دریځ د ملاتړ غوښتنه  وکړه. د افغان حکومت دا دریځ په ملي او نړیوالو رسنیو کې په پراخه کچه منعکس شو او د ځینو تخریبي هڅو ترڅنګ یې افغانانو پراخ هرکلی وکړ؛ خو طالبانو یې په اړه لا هم خپل دریځ نه دی روښانه کړی. په ټوله کې د کابل پروسې د دویمې غونډې ارزونه او په ځانګړې توګه د سولې بهیر د پیل په تړاو هیلې او اندېښنې د تحلیل په لومړۍ برخه کې څېړل شوې دي.

د تحلیل په دویمه برخه کې بیا د فاسدو هېوادونو په کتار کې د افغانستان د راتګ په اړه لولئ. د شفافیت نړیوال سازمان په خپل کلني راپور کې، چې د ۲۰۱۷ میلادي کال په تړاو دی، افغانستان د نړۍ څلورم فاسد هېواد بللی او په دغه هېواد کې یې له اداري فساد سره روانه مبارزه ناکامه بللې ده. اداري فساد د افغانستان له سترو ننګونو یوه ده، چې د ملي یووالي حکومت په لومړي کال جدي مبارزه ورسره پیل کړه. دا چې د ملي یووالي حکومت تګلاره او درې کلنه مبارزه څه ډول وه او په دې برخه کې څه کول پکار دي، هغه پوښتنې دي، چې د تحلیل په دویمه برخه کې یې د ځوابولو هڅه شوې ده.

# کابل پروسه؛ ایا د سولې مخامخ خبرې به پیل شي؟




د کابل پروسې دویمه غونډه د ۲۵ هېوادونو او ۳ نړیوالو سازمانونو د استازو په ګډون، تېره چارشنبه (د کب ۹مه ۱۳۹۶) په کابل کې جوړه شوه. په دې غونډه کې ولسمشر اشرف غني، طالبانو ته د ځو مشخصو وړاندیزونو له لارې، د حکومت د سولې نوې تګلاره وړاندې کړه، چې په ملي او نړیوالو رسنیو کې یې په پراخه کچه انعکاس وموند.

د سولې لپاره د افغان حکومت نوي وړاندیزونه، طالبانو ته له افغان حکومت سره د سولې لاره روښانه کوي او ترټولو مهمه خبره یې دا ده، چې له هر ډول مخکېني شرط پرته له طالبانو سره خبرو اترو ته چمتووالی ښودل شوی. تر دې مخکې د افغان حکومت لهخوا سولې ته د طالبانو رابلل، همېشه د دغې ډلې د تسلیمېدو په معنا بلل کېدل؛ خو د ولسمشر غني اوسنی دریځ که څه هم د بهرنیو ځواکونو د حضور په تړاو، چې د طالبانو د جګړې اصلي لامل دی، وضاحت نه لري؛ خو بیا هم په تېره ۱۷ کلنه دوره کې بېمخینې ښکاري.

د کابل پروسې دویمه غونډه او د ولسمشر غني دا بېساري وړاندیزونه داسې مهال دي، چې ترې یوه ورځ وړاندې افغان طالبانو د دویم ځل لپاره له واشنګټن څخه وغوښتل چې له دغې ډلې سره د خبرو اترو له لارې د افغانستان قضیه حل کړي او د طالبانو له سیاسي دفتر سره خبرې اترې پیل کړي.

د کابل پروسې د لومړۍ او دویمې غونډې توپیر، له طالبانو سره د خبرو اترو د پیل لپاره د افغان حکومت وړاندیزونه او د حکومت د سولې په تګلاره کې بدلون او دا چې د طالبانو غبرګون به د حکومت دغه نوي دریځ ته څه وي، هغه موضوعات دي چې دلته پرې شننه شوې ده.

## د لومړۍ او دویمې غونډې توپیر

د کابل پروسې لومړۍ غونډه داسې مهال جوړه شوه، چې له یوې خوا د څلوراړخیزو مذاکراتو لړۍ ناکامه شوې وه او له بله پلوه په مسکو کې د افغانستان په تړاو درېاړخیزه غونډه جوړه شوې وه، چې د افغان حکومت اندېښنې او توند غبرګون یې له ځان سره لرل. همدا لامل و، چې د ملي یووالي حکومت د کابل پروسه پیل کړه او په دې توګه یې د افغان سولې په تړاو نوښت او مدیریت په خپل لاس کې واخېست.

په لومړۍ غونډه کې د افغانستان د سولې او د افغانانو په مشرۍ د دغې پروسې د مخته وړلو په اړه، د سیمه‌ییزې او نړیوالې اجماع جوړولو هڅه وشوه او طالبانو ته، تر ډېره د فشار په دود د سولې وړاندیز وشو. کوم څه چې په دویمه غونډه کې متفاوت وو. په دویمه غونډه کې افغان حکومت له طالبانو سره د روغې جوړې لپاره د وروستي چانس په توګه بې‌ساري نرمښت وښود او له کوم قید او شرط پرته یې طالبانو ته د سولې د خبرو اترو وړاندیز وکړ.

د کابل پروسې د دویمې غونډې لپاره د سولې عالي شورا هم د عامه ذهنیت جوړونې په موخه هلې ځلې وکړې. تېره میاشت کله چې واشنګټن او افغان حکومت په کابل کې له خونړیو بریدونو وروسته د سولې خبرې تحریم کړې، د سولې عالي شورا مشر محمد کریم خلیلي له ولسمشر سره په کتنه کې او وروسته څو ځله د حکومت پر دغه دریځ نیوکه وکړه او ټینګار یې وکړ، چې ټول هېوادوال د سولې په اړه اجماع لري؛ خو ځینې کړۍ له وضعیت څخه په ناوړه استفادې سره د سولې هلې ځلې سبوتاژ کوي.

## د افغان حکومت د سولې تګلاره کې بدلون

له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۳ کال پورې د افغان حکومت د سولې تګلاره تر ډېره د بې‌وسلې کولو او یا هم د سولې له پروګرام سره د خلکو یو ځای کول وو؛ خو په ستره کچه کوم اغېزناک او رغند پلان موجود نه و.

د ملي یووالي حکومت له جوړېدو وروسته بیا سوله د هېواد د بهرني سیاست یو مهم عنصر وګڼل شو او له دې لارې هلې ځلې وشوې؛ خو په لومړیو دریو کلونو کې له طالبانو سره د سولې په تړاو ابتکار د افغان حکومت په لاس کې نه و. د دې ترڅنګ افغان حکومت له هغو طالبانو سره د سولې خبره کوله، چې وسله پر ځمکه ږدي.

د کابل پروسې له جوړېدو سره، ملي یووالي حکومت د سولې د هلو ځلو ابتکار په خپل لاس کې واخېست او په لومړۍ غونډه کې یې ایله د سولې په تړاو د سیمه ییزې اجماع پر جوړولو تمرکز وکړ. د کابل پروسې دویمې غونډې روښانه کړه، چې افغان حکومت خپله ټوله هڅه کوي، چې طالبان له خپل دریځ څخه په شا کېدو ته وهڅوي او د نورو هېوادونو له منځګړتوب پرته یې مخامخ له حکومت سره د خبرو اترو لپاره چمتو کړي.

له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو د پیل لپاره د حکومت په دریځ کې په داسې کچه نرمښت ولیدل شو، چې له ۲۰۰۱ کال راهیسې یې ساری نه دی لیدل شوی. ولسمشر غني د لومړي ځل لپاره طالبانو ته ډېر څرګند او مشخص وړاندیزونه وړاندې کړل.

## طالبانو ته د حکومت وړاندیزونه

ولسمشر اشرف غني، د کابل پروسې په دویمه غونډه کې اووه ټکي له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو لپاره د طرحې په توګه وړاندې کړل، چې په وینا یې، دا پروسه به د مذاکراتو، تصویب او تطبیق په دریو مرحلو کې وړاندې ځي:

**لومړی**؛ د سولې لپاره سیاسي چوکاټ وضع شي: اوربند وشي، طالبان د یوه سیاسي ګوند په توګه په رسمیت وپېژندل شي، د باور جوړونې ترتیبات ونیول شي او عادلانه او آزادو ټاکنو ته لاره هواره شي؛

**دویم**؛ د سولې لپاره حقوقي چوکاټ وضع شي: د غوښتنې په صورت کې په اساسي قانون کې د پیشبینې شوې قانوني پروسې له لارې د اساسي قانون بیاکتنه وشي او د بندیانو د آزادولو او د بندیزونو له لېستونو څخه د ایستلو لپاره قانوني لارې چارې تعقیب شي؛

**دريم**؛ د افغانستان دولت په رسميت وپېژندل شي، د قانون حاکميت ته درناوی وشي، اصلاحاتو ته لاره هواره شي او د متوازن پرمختګ او د کډوالو د راستنېدلو لپاره انتظامات وشي؛

**څلورم**؛ د ټولو اتباعو، په تېره د پخلا کېدونکيو طالبانو د امنيت لپاره تدابير ونيول شي؛

**پنځم**؛ د اقتصاد او ټولنيز پرمختګ لپاره پروګرامونه پلي شي او په ملي پروګرامونو کې کډوالو او پخوانيو جنګياليو ته ځای ورکړل شي؛

**شپږم**؛ د سولې لپاره نړيوال ملاتړ او همکاري ترلاسه شي، په تېره دا چې د ډيپلوماټيک مالي ملاتړ په ترلاسه کولو، د بهرنيو جنګياليو د برخليک معلومولو او له لستونو څخه له سولې سره د يو ځای کېدونکو افغانانو د نومونو د ايستلو په برخه کې همکاري ترلاسه شي؛

**اووم**؛ او د يوه جامع تطبيقي چوکاټ له لارې ببړني، لنډمهال او اوږدمهال شرايط او اهداف ټاکل او په دې ټولو برخو کې د پرمختګ د څارنې او ارزونې يو مؤثر ميکانيزم رامنځته شي.

د ولسمشر په خبره، په پورته ټولو پړاوونو کې به د طالبانو نظريات او وړانديزونه په نظر کې نيول کېږي او د مذاکراتو په يوه منل شوې اجنډا به توافق کېږي، چې دا به لومړۍ مرحله يعنې د مذاکراتو مرحله وي.

ولسمشر دغه راز وويل: «د ملي يووالي حکومت د طالبانو د دفتر له پرانيستلو، هغوی ته د پاسپورټونو له صادرولو او په آزاد ډول سفر کولو، د بنديزونو ليرې کولو په برخه کې له مرستې، رسنيو ته د لاسرسي د ترتيباتو او د طالبانو د کورنيو له بېرته مېشتيدلو سره موافق دی.»

د ولسمشر په وينا، له يوې خوا د افغانستان خلک د سولې پلويان دي او له جنګه ستړي دي او له بلې خوا نړيوال هم په سوله ټينګار لري او دا مهال د سيمې په کچه د افغانستان د سولې په اړه اجماع رامنځته شوې ده.

ولسمشر دغه راز د ځينو خنډونو د له منځه وړلو هڅه هم وکړه. د سولې په قضيه کې د ښځو حقونه چې تل د ځينو کړيو له لوري د يوه خنډ په توګه مطرح کېږي؛ ولسمشر په دې غونډه کې ټينګار وکړ، چې مېرمنې به په دې پروسه کې فعالانه ګډون ولري او حقوق به يې تر پښو نه لاندې کېږي.

## د طالبانو غبرګون

د دغو کرښو تر لیکلو پورې طالبانو د ولسمشر غني د وروستي دریځ او د کابل پروسې د دویمې غونډې په اړه خپل رسمي دریځ نه دی روښانه کړی؛ خو د دغې ډلې په وېبپاڼه له یوې سیاسي تبصرې څخه د دوی غیرمستقیم دریځ څرګندېږي. په دې تبصره کې که څه هم د ولسمشر غني وروستۍ څرګندونې ستایل شوې دي او د نومووړي لهجه سوله‌ییزه بلل شوې؛ خو د بهرنیو ځواکونو د برخلیک په تړاو د ولسمشر په خبرو کې د وضاحت نه شتون یې د حکومت د دغې تګلارې نیمګړتیا بللې ده؛ ځکه په وینا یې، طالبان د سیاسي رشوت لپاره نه، بلکې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د حضور د پای ته رسولو لپاره جنګېږي.

د دې ترڅنګ، د یوه امریکایي دیپلومات بارنټ روبین له‌خوا طالبانو ته د پرانېستي لیک په ځواب کې هم طالبانو ویلي، چې ګویا حکومت له طالبانو څخه د دغې ډلې د تسلیمولو غوښتنه کوي. سره له دې چې دا هم د کابل پروسې لپاره د طالبانو ځواب نه دی او طالبان به ښايي د ولسمشر غني د وروستۍ طرحې په اړه خپل رسمي دریځ روښانه کړي.

د سولې د خبرو لپاره د بهرنیو ځواکونو د بشپړ وتلو شرط او د سولې له کوم هوکړه‌لیک پرته د امریکایي او ناټو ځواکونو د وتلو قضیه، له افغانستانه د روسانو له وتلو سره ورته پایلې لرلی شي او له بلې خوا د حکومت لپاره سخته وه، چې د اوس لپاره یې د بهرنیو ځواکونو د حضور په تړاو ښکاره څرګندونې کړې وای. له همدې کبله ښايي طالبان هم دا وضعیت درک کړي او لږ تر لږه د طالبانو دریځ د تېر په څېر په بشپړ ډول منفي نه وي؛ خو که طالبان په بشپړ ډول د تېر په څېر منفي دریځ خپل کړي، نو دا به د سولې لپاره شته هیلې په پراخه کچه مړاوې کړي.

په یوه اړخ کې، طالبانو مخامخ امریکا ته د خبرو اترو وړاندیز کړی او حکومت بې‌صلاحیته بولي، په بل اړخ کې ولسمشر غني هم د سولې د نوې طرحې د وړاندې کولو پر مهال وویل، چې دا طرحه باید د حکومت کمزوري او د سولې لپاره زارۍ ونه ګڼل شي، بلکې دا د ولس غوښتنه ده. په دې توګه دواړه لوري له قوي دریځ څخه د سولې خبرو اترو ته د ننوتلو هڅه کوي؛ کوم څه چې دا بهیر یې له خنډونو سره مخ کړی دی.

داسې ښکاري چې طالبان د سولې په خبرو اترو کې د افغان حکومت له پامه غورځولو سره، د ۲۰۰۱ کال د بن کنفرانس په څېر تېروتنه کوي؛ ځکه افغان حکومت له دغو خبرو اترو ایستل کېدای نه شي. نو ځکه به ښه دا وي، چې طالبان له افغان حکومت سره د خبرو اترو وړاندیز ومني؛ خو دا خبرې اترې څلور اړخیزې شي او یو اصلي لوری پکې امریکا او یو لوری پکې ځواکمن تضمین کوونکی وي. خو که امریکا بیا هم دغې پروسې ته له ننوتلو ډډه وکړي، نو دا به په لویه کچه د سولې دا بهیر له ناکامۍ سره مخ کړي.

# له اداري فساد سره د ملي يووالي حکومت د مبارزې ارزونه



د روڼتيا نړيوال سازمان په خپل کلني راپور کې، چې تېره اوونۍ (د ۱۳۹۶د کب ۳مه) خپور شو، بيا هم افغانستان د نړۍ د فاسدو هېوادونو په ډله کې راوستلی، چې تېر کال په‌کې ډېر فساد شوی دی. په دغه راپور کې افغانستان د نړۍ د ۱۸۰ هېوادونو په لړ کې له سوماليا، سوېلي سوډان او سوريې راوروسته د ۱۵ امتيازونو په اخېستلو سره د نړۍ څلورم فاسد (۱۷۷ رتبه) هېواد ګڼل شوی دی. دا راپور ښيي، چې افغانستان د ۲۰۱۶م کال په پرتله په دې برخه کې شاتګ کړی؛ ځکه تېر کال افغانستان د دغې ادارې د کلني راپور له مخې، د نړۍ د فاسدو هېوادونو په لړ کې اتم ځای درلود.

له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د ملي يووالي حکومت د ناکامۍ په اړه د افغانستان د روڼتيا څار بنسټ هم د دغه راپور له خپرېدو وروسته په خپل غبرګون کې ويلي، چې دغه شاتګ له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د ملي يووالي حکومت د ارادې نه لرلو ښکارندويي کوي.

دا چې له فساد سره د مبارزې لپاره د ملي يووالي حکومت تګلاره څه ده؟ له فساد سره په مبارزه کې د حکومت تېره درې کلنه مبارزه څه ډول وه؟ په ۲۰۱۷م کال کې د اداري فساد او ورسره د مبارزې وضعيت څه و؟ او دغه راز څه پکار دي چې له دغې پديدې سره مبارزه بريالۍ شي؟ دا او دې ته ورته پوښتنې مو دلته ځواب کړې دي.

## د ملي يووالي حکومت تګلاره

د ملي يووالي حکومت دواړو مشرانو، د ۱۳۹۳ هـ ش کال د ولسمشريزو ټاکنو پر مهال، له اداري فساد سره مبارزه له خپلو مهمو لومړيتوبونو ګڼله. ولسمشر اشرف غني په دې تړاو په خپل ټاکنيز منشور کې يو ځانګړی بحث هم کړی دی.

د ملي يووالي حکومت اداري فساد ضد مبارزې تګلاره، تر ډېره له اداري فساد سره د مبارزې د ادارو، ستراتېژيو او قوانينو په جوړولو راڅرخي. د ملي يووالي حکومت له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې لاندې ادارې رامنځته کړې، چې له فساد سره د مبارزې او يا هم د دغې مبارزې د څارنې په برخه کې فعاليت کوي:

- له اداري فساد سره د مبارزې عدلي او قضايي مرکز؛
- د قانون حاکميت او له اداري فساد سره د مبارزې عالي شورا؛
- د ملي تدارکاتو ځانګړی کميسيون.

دغه ادارې داسې مهال جوړې شوې، چې له وړاندې ځينې ورته ادارې هم موجودې وې، لکه: د تفتيش عالي اداره او له اداري فساد سره د مبارزې د ستراتيژۍ پر تطبيق د څارنې عالي اداره؛ خو ستونزه دا وه، چې د بدلونونو او عملي اصلاحاتو لپاره ګامونه نه وو اخيستل شوي او ياده ستونزه اوس هم تر ډېره پر ځای پاتې ده. د ملي يووالي حکومت هم په لوړه کچه نه دی توانېدلی، چې پر فساد ککړ لوړپوړي چارواکي يا هم زورواکي محاکمه او قانون په ريښتيني توګه پرې عملي کړي.

## د فساد ضد تېره دري کلنه مبارزه

له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د ملي يووالي حکومت پيل، په دې برخه کې د چټکو ګامونو له اخيستلو سره مل و. هغه مهم ګامونه چې حکومت په لومړي سر کې واخېستل، د کابل‌بانک د قضيې بيا پرانيستل، د ملي تدارکاتو کميسيون جوړول او په اداري فساد تورنو څو تنو چارواکو ممنوع الخروج اعلانول او څارنوالۍ ته يې معرفي کول وو. د همدغو اقداماتو له کبله، افغانستان په ۲۰۱۴م کال کې د روڼتيا د نړيوال سازمان په کلني راپور کې له دويم څخه څلورم ځای ته راټيټ شو.

په ۲۰۱۵ کال کې د اداري فساد پرضد د حکومت کړنلاره تر ډېره همغږې نه وه او له همدې کبله يې له لسو څخه ۱,۱ نومرې واخېستې او په نړۍ کې بېرته دويم فاسد هېواد شو. په دغه کال کې د کابل‌بانک د قضيې يوه اندازه پيسې له قرضدارانو واخيستل شوې؛ خو له زندانه د کابل‌بانک د قضيې د يوه مهم تورن خليل الله فيروزي د خوشې کېدو او ورسره د يوه ښارګوټي د قرار داد لاسليک کول، هغه څه وو، چې د ملي يووالي حکومت فساد ضد مبارزه يې تر شکونو لاندې راوسته.

په ۲۰۱۶م کال کې بيا له فساد سره د مبارزې په برخه کې د ملي يووالي حکومت ځينو اقداماتو د افغانستان ځای په نړيواله کچه اتم مقام ته راټيټ کړ. د حکومتي چارواکو د شتمنيو ثبت، له اداري فساد سره د مبارزې عدلي او قضايي مرکز پرانيستل، د ټولو ولايتونو د قاضيانو په ګډون د ۶۰۰ قاضيانو،۲۰ څارنوالو او د ګمرکونو د ۲۵ سلنه کارمندانو ګوښه کول، د لوړپوړو چارواکو له ۱۰۰ څخه د زياتو پاسپورټونو ضبطول، په ۱۲۵۰ قراردادونو کې د ۲۲۰ ميليون ډالرو اختلاس مخنيوی او ځينې نور ګامونه، هغه څه وو چې له امله يې افغانستان په ۲۰۱۶م کال کې د روڼتيا نړيوال سازمان په راپور کې، د نړۍ د فاسدو هېوادونو د نوملړ اتم مقام خپل کړ.[1]

په عمومي ډول د اداري فساد پرضد مبارزه کې ډېری ګامونه هغه مهال پورته کېدل، چې د کوم نړيوال کنفرانس وخت به رانژدې شو. د بېلګې په توګه د لندن کنفرانس (۲۰۱۴) څخه وړاندې د کابل‌بانک قضيه پرانيستل شوه، د وارسا (۲۰۱۶) له غونډې وړاندې يې د حکومتي چارواکو شتمنۍ ثبت کړې او د بروکسل (۲۰۱۶) غونډې دمخه يې له اداري فساد سره د مبارزې عدلي او قضايي مرکز پرانيست[2].

## په ۲۰۱۷ کې د نړۍ څلورم فاسد هېواد

په ټوليز ډول، تېر ۲۰۱۷م کال د افغانستان لپاره له ستونزو او ننګونو ډک کال و. دغه کال په تېرو ۱۶ کلونو کې تر ټولو زيات له سياسي اختلافاتو او امنيتي بې‌ثباتۍ سره مل و، چې همدې وضعيت بيا له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې هم، د ملي يووالي حکومت له ستونزو او ننګونو سره مخ کړی و.

---

[1] See online: https://www.transparency.org/news/feature/corruption_perceptions_index_2016

[2] آزادي راډيو، له اداري فساد سره د مبارزې عدلي او قضايي مرکز پرانيستل شو، پرليکه:
http://pa.azadiradio.com/a/27832045.html

د شفافیت نړیوال سازمان (Transparency International) چې مرکز یې د جرمني په برلین کې دی، په ۲۰۱۷م کال کې د نړۍ په ۱۸۰ هېوادونو کې د اداري فساد کچه او د مخنیوي لپاره یې د حکومتونو هلې ځلې ارزولې دي. د دغه سازمان د ۲۰۱۷م کال راپور ښیي، چې افغانستان یو ځل بیا له فساد سره د مبارزې په برخه کې د تېر کال په پرتله کمې نومرې اخیستې دي.[3]

د روڼتیا نړیوالې اداري په دغه راپور کې ویلي، چې په ۲۰۱۷ کال کې افغان حکومت د فساد پر ضد مبارزه کې پاتې راغلی؛ خو لویه څارنوالۍ بیا په دې تړاو د بریاوو خبر ورکوي او وایي چې دوی د ۱۳۹٦ هـ ش کال له پیله تر اوسه، د اداري فساد کابو ۱۵۲٦ دوسیې څېړلې دي او په دغو دوسیو کې د پوځي جنرالانو په ګډون د ګڼو لوړپوړو حکومتي چارواکو دوسیې هم شاملې دي.

د لویې څارنوالۍ د ویاند جمشید رسولي په وینا، په دغو دوسیو کې ۵۴ تنه ملکي او پوځي منسوبین، ممنوع الخروج اعلان شوي او د ۱۵ تنو دندې ځنډول شوې دي. د ده په وینا، تر اوسه له اداري فساد سره د مبارزې د عدلي او قضايي مرکز له‌خوا د لوړپوړو حکومتي چارواکو او پوځي جنرالانو په ګډون، ۱۱۸ تنه په مجازاتو هم محکوم شوي دي.

د افغانستان د روڼتیا څار بنسټ بیا په تېر کال کې له اداري فساد سره د مبارزې د ناکامۍ لامل، د حکومت خپلمنځي سیاسي اختلافات او سیاسي لاسوهنې بللې دي. د دغې اداري مشر سید اکرام افضلي، له فساد سره د مبارزې پر وضعیت اندېښنه ښودلې او له حکومته یې غوښتي چې له اداري فسادسره د مبارزې د بنسټونو په چارو کې لاسوهنه ونه‌کړي.

په بل اړخ کې، څو میاشتې وړاندې (۱۳۹٦ د ثور ۱۸مه) ولسمشر غني د فساد پر ضد د اروپایي ټولنې په درېیم کلني کنفرانس کې، د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د فساد زړه یاد کړ او زیاته یې کړه، چې ده ته په ۲۰۱۷م کال کې له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې لاسته‌راوړنې د منلو وړ نه دي. هغه ټینګار وکړ، چې د فساد له‌منځه وړل یې له لومړیتوبونو څخه دي، خو په بشپړه توګه له‌منځه وړل یې له ۱۰ تر ۲۰ کلونو پورې وخت نیسي.

[3] See it online: https://www.transparency.org/news/feature/corruption_perceptions_index_2017

په ۲۰۱۷م کال کې د ملي یووالي حکومت د اداري فساد اړوند لسګونه دوسیې پرانیستې او یو شمېر کسان یې په مجازاتو محکوم کړي دي؛ خو پر افغان حکومت ډېرى مهال نیوکه دا وه، چې له توپیر پرته د ټولو فاسدو چارواکو دوسیې په جدیت سره نه څېړي، یوازې د کمزورو او عادي کسانو دوسیې او هغه هم د نمایشي اقدامانو په توګه څېړي؛ په داسې حال کې چې په فساد کې د ښکېلو یو شمېر زورواکو او لوړپوړو دولتي چارواکو دوسیې لا هم پټې پاتې دي.

په ټولیز ډول، په هېواد کې سیاسي او امنیتي بې‌ثباتي، له فساد سره د مبارزې په برخه کې د ګڼو ادارو موجودیت، له فساد سره د مبارزې په برخه کې د ملي یووالي حکومت ناهمغږې تګلاره او له لومړي سره د ملي یووالي حکومت ایتلافي ډوله بڼه، هغه مهم عوامل ګڼل کېږي، چې افغانستان یې د فاسدو هېوادونو د نوملړ سر ته راوستی دی.

## وړاندیزونه او سپارښتنې

لاندې واردو ته د افغان حکومت پاملرنه به، د اداري فساد پر ضد مبارزې له بریالیتوب سره مرسته وکړي:

**لومړی**؛ له اداري فساد سره مبارزه له هر څه وړاندې قوي او جدي سیاسي ارادې ته اړتیا لري؛

**دویم**؛ له اداري فساد سره د مبارزې د بریا لپاره، حکومت یوې همغږې تګلارې ته اړتیا لري؛

**درېیم**؛ له اداري فساد سره د مبارزې متعددې اداري اغېزناکې نه دي؛ اړتیا ده چې پر ځای یې د اداري فساد پرضد یوه خپلواکه، باصلاحیته او اغېزناکه اداره رامنځته شي؛

**څلورم**؛ په دولتي ادارو کې د فساد کچې راټیټولو لپاره باید د لوړپوړو دولتي چارواکو د ټاکلو په تړاو قومي، سمتي او سیاسي مصلحتونه له پامه وغورځول شي او داسې کسان په دندو وګمارل شي، چې ښه کاري تجربه ولري او په اداري فساد کې د ښکېلتیا مخینه ونه لري؛

**پنځم**؛ د رسنیو او دیني علماوو رول او عامه پوهاوي ته پاملرنه وشي او ترڅنګ یې داسې یو قانون جوړ شي، چې د اداري فساد د افشا کوونکو خوندیتوب یکې تضمین شي؛

**شپږم**؛ اداري فساد هم د هرې بلې برخې په څېر له سیاسي او امنیتي ثبات سره تړاو لري. له همدې کبله حکومت باید په هېواد کې د روانې سیاسي او امنیتي بې‌ثباتۍ د له منځه وړلو او د سولې بهیر د بریا په موخه، ریښتنې هلې ځلې وکړي.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.